# دمشرانوجرګې د عمومي غونډې بهير

# د ۱۳۹۷ کال د مرغومي د مياشتی ۱۸ مه

**فضل هادی مسلم یار:**سناتورصاحبانو خويندو او ورونړوټول ستړي مشئ سهارمو نيکمرغه، منشي صاحب آجنډا قرائت کړئ.

**استاد محمدطيب عطا:**دری نۍ د ۱۳۹۷ کال د مرغومي دمياشتې ۱۸مه نيټه.

آجنډا

دقرآن کريم د ځومبارکو آيتونو تلاوت.

دملي سرود خپرول.

۱- آزاد بحث د نصاب تربشپړيدو پورې.

۲- د افغانستان داسلامي جمهوري دولت او دعراق دجمهوري دولت ترمنځ دهوايي هوکړه ليک په تړاو خبرې اترې.

۳- له ختيځو ولايتونو څخه د ديني،فرهنګي،پوهنې او دلوړو زده کړو د کميسيون دسفر رپوټ اوريدل.

دعائيه او دنن ورځې د غونډې د پايته رسيدو اعلام.

سه شنبه ۱۸ ماه جدی سال ۱۳۹۷

آجندا

تلاوت آيات چند از کلام الله مجيد.

پخش سرود ملی.

۱- بحث آزاد الی تکميل نصاب.

۲- بحث روی موافقت نامه هوايی ميان جمهوری اسلامی افغانستان ودولت جمهوری عراق.

۳- استماع گزارش هيئت کميسيون اموردينی،فرهنگی،معارف وتحصيلات عالی از ولايات شرقی کشور.

دعائيه واعلام ختم جلسه امروزی.

درابتدا آيات چندی از قرآن کريم تلاوت وبعدا سرود ملی دولت جمهوری اسلامی افغانستان پخش گرديد.

آزاد بحث

**مولوی غلام محی الدين منصف:**عملياتی که ازطرف وزارت دفاع ملی آغازشده است دربعضی ولايات نتيجه خوب داده است اما خواهشم اينست که نيروهای اردو ازمناطقی که ازمخالفين تصفيه می شوند خارج نشوندوخواهشمندم به حالت نيروهای امنيتی درولايات بادغيس وغور هم رسيدگی صورت گيرد.

دربدخشان عده از هموطنان ما درکندن کاری های معدن طلا جان های شان را ازدست داده اند ازحکومت می خواهم که حفريات وکندن کاری معادن بايد مطابق معيارهای پذيرفته شده بين المللی صورت گيرد در غيرآن باعث تلفات معادن چيان می گردد.

بارتباط صلح بايد گفت که مخالفين نشست جده را محول به نشست قطرکرده است البته اين تعليق بيشتر به خواست پاکستان صورت گرفته است.ازجامعه بين المللی خواهش می کنيم که

بالای پاکستان فشارهای بیشتری وارد نماید تا پاکستان باالنوبه بالای طالبان فشار وارد کند که با حکومت افغانستان نشستی داشته باشد ومذاکرات را بین الافغانی بسازند تازمانیکه مذاکرات بین الافغانی نشوند ازاین مذاکرات نتایج مطلوب بدست نخواهد آمد.

**کامل بیک حسینی:** حادثه ولسوالی کوهستان بدخشان خیلی دلخراش بوده درمعدن طلا به تعداد ۳۳ تن از هموطنان ما از اثرلغزش معدن شهید شده اند وبه تعداد شش تن هم سخت زخمی شده اند.تاکنون از طرف ادارات ذیربط با آسیب دیده گان کمک صورت نگرفته است.توقع ما اینست که بابازمانده گان شهدا وزخمیان حادثه کمک رسانی نمایند.

**ډاکټرمحمدآجان منګل:** زیات شمیرهیواد وال دناامنیو او وچکالي له امله له خپلو کورونو او سیمو بې ځایه شوي دي هیله ده چې له هغوی سره بیړني مرستې وشي.

دټاکنو کمیسیون په یوه لویه پروژه بدل شوی دی زیات شکایتونه په دې تړاو شتون لري زیات شمیرکارکوونکي یې په درغلیو تورن دي باید دغه کسان عدلي او قضایي ادارو ته وسپارل شي.

**محمدحسن هوتک:** دبدخشان دخلکو په غم کې ځانونه شریک بولو دا پیښه په رښتیا هم ډیره زړه بېرنونکي وه چې زیات شمیر معدن چیان پکې شهیدان او ټپیان شوي دي.

دکورنیو چارو وزارت یولست خپورکړی دی چې په دې لست کې د ۲۰۰ څخه دزیاتو کسانو نومونه راغلي دي ویل شوي دي چې دغه کسان په مختلفوجرمونو کې لاس لري، ددې کار ستاینه کوو هیله موداده چې دغه جنایت کاران ونیول شي او دخپلو اعمالو په جزا ورسول شي.

**مولوی عبدالله قرلق:** ازموسسات همکار وادارات دولتی می خواهم که با آسیب دیده گان حادثه بدخشان کمک های لازم برسانند.

کارزارهای انتخاباتی وثبت نام نامزدان برای ریاست جمهوری جریان داردبرای انتخابات باید یک بستر مناسب امنیتی واجتماعی موجود باشد،حکومت باید ساحه حاکمیت اش را وسعت ببخشد.تامردم مطمئین شوند که میتوانند در پروسه انتخابات اشتراک ورزند.

طالبان حاضرنیستند که در مذاکرات رویارو باحکومت افغانستان بنشینند ازهمین خاطرنشست جده را به تعویق انداختند پس یگانه راه وادارکردن مخالفین به مذاکرات فشار های نظامی است که باید بالای این گروه وارد شود.

**رحمت الله اڅکزی:** دبدخشان پیښه واقعا خواشینونکي ده،دکوهستان ولسوال وویل چې په دغه کان کې د ورځې ۱۰۰۰۰ تنه کارکوي او دامعدن شکونه تهوله په غیرقانوني بڼه کیږي دولت ته په کارده چې دغیرقانون استخراجاتو

مخه ونيسي ځکه دا شتمني ملي شتمني ده دا د افرادو حق نه دي.

دکورنيو چارو د وزير اقدامات دستاينې وړ دي هيله لرو چې داپروګرامونو په بشپړه توګه عملي کړي، کوم لست چې دکورنيو چارو وزارت خپورکړي دی بايد دا غيرمسئول کسان چې نيمه دولتي کسان بلل شوي دي بايد ټول بې وسلې شي،ونيول شي او په سزا ورسول شي.

په کندهار ولايت کې هيڅوک غيرقانوني وسله نشي ګرځولی خو په کابل کې دداسې کسانو شمير بيخي زيات دی بايد ددې غيرمسئولو کسانو ډلې ختمې شي.

وړانديزکوم چې دجنرال عبدالرازق د قاتلينو د پيداکولو دپاره دايزديارصاحب ترمشرۍ لاندې يو پلاوې وټاکل شي او کندهارته لاړشي.

**نظرمحمدفقيرى:** سوله د افغان ملت غوښتنه ده،داودزی به نن يا سبا پاکستان ته سفرکوي هيله ده دا سفرګټور ثابت شي او پاکستان طالبان له افغان حکومت سره مخامخ خبرو ته حاضرکړي دسولې خبرې به پايله ونه لري مګر داچې دا خبرې د افغانستان دحکومت او طالبانو ترمنځ وشي.

**عبداللطيف نهضت يار:** دبدخشان له ولس سره د وروستنی پيښې په تړاو غم رازي کوم، له سوداګرو هيله کوم چې له متضررينو سره مرستې ته ورودانګي.

مولوي متوکل ډېرښه متدين شخص دی خو دجمعې په ورځ نيول شوی دی تراوسه په بند کې پروت دی هيله مې داده چې دعلماوو سپکاوی ونشي او مولوی متوکل د خوشې کړي.

**لطف الله بابا:** يوشمير کسان د برښنا شرکت څخه مقروضيت لري لست يې زموږ په کميسيون کې پروت دی هيله ده چې مشران خپل قرضونه ادا کړي کنه نو بايد نومونه يې رسوا شي.

داداري اصلاحاتو کميسيون دکارکوونکو د استخدام په پروسه کې بايد چټک ګامونه واخلي له يوې خوا به ځوانانو ته دنده پيداشي له بلې خوا به دپوهنې وزارت کارکوونکي پوره شي او دظرفيت په لوړولو کې به موثر تمام شي.دهوايې چلند اداره د آريانا افغان هوايي شرکت دحالت ښه کولو ته پام نه کوي.

په دې وروستيو وختو کې هڅې پيل شوې دي چې ځينې اداري يو له بل سره مدغم شي نو په دې برخه کې بايد له سره غور وشي.

**نفيسه سلطاني:** دپکتيا او هرات ولايتونو د معلولينو امتيازات تراوسه نه دي اجراشوي حتی دځينو ولايتونو د معلولينو امتيازات خو د ۱۳۹۱ کال څخه راپه دېخوا نه دي اجرا شوي موږ غواړو چې دغو دوو ولايتونو ته کاري سفرونه ولرو.

**ډاکټرزلمی زابلي:** جناب رئیس ستاسو دلارښوونې سره سم زه،امین زی صاحب او دعامه هوساینې دکمیسیون دوه تنه غړي لاړو د وزیراکبرخان روغتون د ډاکټرانو شکایت مو وڅیړل دروغتون رئیس ومنله چې هڅه کیږي دا روغتون خصوصي سکتور ته وسپارل شي. هغه څوک چې غواړي دغه روغتون په خپل واک کې واخلي دا روغتون به تخریبوي او بل تعمیر به جوړیږي.په کارده چې دغه دولتي روغتون خصوصي نشي دهغه پرعوض د هغه ځمکه خصوصي سکتور ته دروغتون د جوړولو دپاره ورکړل شي چې دوزیراکبرخان روغتون پورې اړوند ده چې نږدې ۳۷ جریبه کیږي په دې برخه کې جناب رئیس ستاسو توجه غواړو.

دبرېښناشرکت دبرېښنا اضافي چارچ په مشترکینو پسې راوباسي په ماپسې دیوې دورې ۵۵۰۰۰ افغانۍ بل راغلی دی.ددوهم نایب صاحب لخوا د برېښنا رئیس ته مډال هم ورکړل شوی دی.

**فوزیه سادات څمکنۍ:** دکورنیو چارو وزارت له هغې کړنې ستاینه کوو چې د ۲۰۰تنو مجرمینو لست یې خپورکړې دی ددې ترڅنګ غوښتنه کوو دهغو قوماندانانو نومونه هم رسوا کړي چې ۵۰۰۰۰ افغانۍ معاش لري ولې په دبی کې هوټلونه او لوړ پوړې ماڼۍ لري دوی په کومو عوایدو دغه ماڼي آبادي کړې دي.

داروپا پارلمان مرستیال وایې چې په ډیورنډ کرښه دسره کتنه وشي ځکه دا کرښه راښکل یوه تاریخي تیروتنه ده په دې کرښه دتاریخي واقعیتونو پربنا باید له سره غور وشي او د تروریزم دریښو د وچولو یوازینی لار داده چې د افغانستان تاریخي حق بیرته ورکړل شي، نو زما هیله داده چې مشرانو جرګه هم په دې تړاو خپل رسمي دریځ روښانه کړي.

**محمدحنیف حنفي:** دوزیراکبرخان روغتون د ډاکټرانو د برخلیک په تړاو باید ووایم چې د تولیزې روغتیا مرستیال وزیر زموږ کمیسیون ته راغلی وو هغوی وویل چې دا روغتون یوه اروپایي دونر ته ورکول کیږي نه د روغتون نوم بدلیږي نه یې پرسونل بې برخلیک کیږي،مرستیال وزیر زیاته کړه چې دا روغتون په عصري معیارونو رغول کیږي بیابه زموږ ناروغان بهرنیو هیوادونو ته د درملنې دپاره نه درومي.

**میرحاتم تره خیل:** تیره اونۍ مخکې د ولایتي شوراګانو د انسجام رئیس زموږ کمیسیون ته راغلی وو نو غوښتنه یې کوله چې د ولایتي شوراګانو د انسجام د اداري پلاوي ټاکنې د وشي.

**محمدعلم ایزدیار:** باقربانیان حادثه بدخشان ابراز همدردی میکنم،یکی از قوماندانان در ولایت بغلان که لین برق را محافظت می نماید

به شهادت رسیده است روح وی وهمکاران شان شاد باشد.

وزارت داخله فهرست دزدان،اختطاف کننده گان وکیسه بران شهرکابل را اعلان کرده است که شامل ۲۲۲ نفرمی شود.این یک اقدام نیک است ومورد حمایت ماست.

سی آی ای گزارش هزار صفه یی را که قبلا محرم بوده اکنون این گزارش را به نشر سپرده است درگزارش آمده است: کمک های که ایالات متحده آمریکا در دوران اشغال افغانستان به وسیله شوروي انجام داده هنوز جزئیات این گزارش افشا نشده اما من می خواهم همین قدر بگویم،آمریکا در این زمینه که با مجاهدین کمک نموده است این کمک اصلا برای منافع خود شان بوده چرا که خطرکمونیزم ایالات متحده آمریکا را تهدید می کردوکمک های که کرده به منظور جلوگیری از توسعه کمونیزم بوده است.

من پیشنهاد اځکزی صاحب را درمورد بررسی قضیه شهادت جنرال رازق را تایید می کنم وشخصا آماده هرنوع همکاری وفداکاری استم.

**امان الله عظیمی:**دپاکستان سفارت ته چې څوک د ویزې اخیستلو ته مراجعه کوي هلته فساد اوج ته رسیدلی دی په یوه ویزه ۲۰۰ ډالر ترې غوښتل کیږي.

**استاد محمدطیب عطا:**بې روزګاري زیاته شوی ده باید حکومت په دې برخه کې سمه پریکړه وشي.

زما وړاندیز دادی چې دپوهنې په برخه کې په لسم ټولګي کې دساینس او ټولنیزو علومو څانګی سره بیلې شي دابه یومثبت ګام وي.

دلوړو زده کړو وزارت ته تحصیلي بورسونه راځي،زما نظردادی چې هرې اداري ته ځانګړې ونډه ورکړل شي.

جنرالان خو هرڅوک ستایي راځئ چې سرتیري وستایو او دهغوی بچیانو ته د زده کړې لازم فرصتونه برابر شي.

**فضل هادي مسلم یار:**کوم بحث چې دلته کیږي دا دمجلس دمصوبې په بڼه ترتیبیږي او له لاسلیک وروسته دپارلماني چارو وزارت ته ځي که تاسو دمصوبې کاپی غواړئ نو هغه هم ستاسو په واک کې درکول کیږي.

کندهارته دپلاوي د تلو وړاندیز وشو زه موافق یم خو باید ووایم مخکې له کندهار تګ څخه به دا موضوع د ملي امنیت له لوی رئیس سره شریکه کړوبیا له تازه مالوماتو سره زموږ پلاوې باید کندهار ته لاړشي.

دجنرال رازق د دوسیې په تړاو دملي امنیت له لوی رئیس سره د مشرانو جرګې دپلاوي لیدنه او کندهار ته ددې پلاوي له تګ سره که مجلس موافق وي نوکارتونه پورته کړئ.

سمه دبدخشان پیبنه ستره غمیزه وه په معدن کې شهیدان شویو کسانو ته فردوس جنت او کورنیو ته یې تسلیت غواړم له حکومت څخه هیله کوم چې دمعدنو شکول باید معیاري کړي او دقانون په چوکاټ کې دا کیدنې تنظیم کړي.زما په اند باید ددغو شهیدانو پوښتنه له هغو کسانو وشي چې دا معدنونه په غیرقانوني توګه شکوي او خلک ورته استخداموي،ددوي بیمه او حقونه او بیمه باید ټول له همدې شرکت یا قاچاقبرانو څخه وغوښتل شي.

دکورنیو چارو د وزیر کړنې وستایل شوي زه هم ستاسو دنظر ملاتړ کوم که څه هم زما نظر له تاسو سره متفاوت ده،دکورنیو چارو وزارت چې ددې وس لري چې دمجرمینو لست خپورکړي نو دا وس هم لري چې دا کسان ونیسي او دقانون منګلو ته یې وسپاري.ښه داده چې له فیسبوکي او شعاري کارونو څخه تیرشي او عمل وکړي.قانون حکم کوي ترهغه وخته چې محکمه یوڅوک مجرم ونه ګڼي موږ یې مجرم نشو بللی.

دوزیراکبرخان روغتون په تړاو چې ډاکټرصاحب زلمی او ورسره پلاوي هلته تللی وو باید ووایم چې ستاسو سفرګټور وو داله دې کبله چې ماویلي وو چې باید په حوصله مندي مخته لاړشو اوس چې ګورم ستاسو په نظریاتو کې هم بدلون راغلی دی.ستاسو په نظرکې داسې راغلي دي چې هم ځمکه شتون لري او هم خصوصي سکتور

ته د پانګونې سره موافق یاست نو زه به دا موضوع جلالتمآب جمهور رئیس ته ورسوم، روغتون دجوړښې او دوزیراکبرخان نوم ته دې تغییر نه ورکول کیږي ځکه دا زموږ دتاریخ یوه برخه ده.

دولایتي شوراګانو د ټاکنو وویل شول ترهغه وخت پورې چې ټاکنې نه وي شوی دوی باید هرکال خپلې ټاکنې وکړي او که ددوی اتفاقي نظر داوي چې ترهغه چې ټاکنې نه وي شوې همدغه اداري پلاوي به خپلو کارونو ته دوام ورکوي داهم یوه لاره ده.

دپاکستان دویزو په تړاو شکایت شتون درلود دابه هم په مصوبه کې راشي ان شاالله عمل به ورباندې کیږي.

**رحمت الله اڅکزی:**حکومت بایددمشرانو جرګې پریکړو ته درناوی وکړي موږ پریکړه کړې وه چې علیپور باید ونیول شي که مجرم نه وو له قضایي پریکړې وروسته باید خوشې شي.نو موږ به د کورنیو چارو په وزارت هغه وخت باور وکړو چې لومړی علیپور بیرته ونیسي نو بیا چې کومې نورې کړنې کوي او موخه یې دقانون پلې کول اوله جرمونو سره مبارزه وي زموږ ملاتړ به هم ورسره وي او باور به هم پروکړو.

جناب رئیس صاحب لطفا کندهار ته دتلونکي پلاوي نور غړي هم مشخص کړئ.

**فضل هادي مسلم یار:** دکندهارد سناتورصاحبانو په ګډون هرهغه سناتور چې غواړي په دغه پلاوي کې غړيتوب ولري کولی شي لاړشي ایزدیار صاحب دي د پلاوي ترکیب جوړکړي زموږ لخوا ستونزه نشته.

**عبداللطیف نهضت یار:** دشکایتونو دخیړنې دپاره ختیځو ولایتونو ته لاړو او ستونزې مو وڅیړلې.دسپین غر تحصیلي موسسه او دننګرهار د پوهنې په ریاست کې شته ستونزې د پلاوي لخوا وڅیړل شوې ځینو کسانو دپوهنې په رئیس تور لګولې دی چې هغه په فساد کې ښکیل او آن تردې چې په سوانح کې ددرج اخطاریه هم ورکړل شوی ده بل خو خپله رئیس د رنځو کړنو دعوی کوي چې د موضوع څیړل وخت ته اړتیا لري.دسپین غر موسسه په داسې یوځای کې فعالیت کوي چې هیڅ ډول معیارونه د ټولګیودپاره په پام کې نه دي نیول شوي.دغې موسسې تراوسه ۷۰۰ ډاکټران فارغ کړي اوس ۱۶۰۰ محصلین لري،غيابي محصلین، د اخلاقي فسادشتون او هغه ته ورته مسئایلو څیړل باید په مسلکي ښه ترسره شي.دتدریس ښه معیاري نه وه، په روغتونو کې د عملي کار دپاره امکانات او سهولتونه شتون نه لري،لابراتواريې نه درلود،نو ددې موسسې دفعالیت څرنګوالی ترپوښتنې لاندې دی.

دشاه امان الله خان مقبره او سراج الاماره څخه مو لیدنه وکړه وړاندیزکوو چې دغه دواړه تاریخي آثار بیا په شه ښه ورغول شي.

دننګرهار والي له موږ سره دکتلو فرصت نه درلودموږ دهغه له دې چلند څخه ناراض یو.

ډاکټرزلمی زابلي:والي خو دومره غټ سړی نه دی هغه په هلمند کې په ۳۰۰۰۰۰ ډالر رشوت مقرر شو بیا ننګرهار ته تبدیل شو.

**لطف الله بابا:** دآریانا افغان هوایي شرکت د مالي وضعې په تړاو یو ریوټ غونډې ته وړاندې شو کمیسیون د آریانا افغان هوایي شرکت د مالي وضعیت او د الوتنو د حالت د ښه کولو په تړاو عمومي غونډې ته وړاندیزونه وړاندې کړل.

**قاري میرحاتم تره خیل:** دکمیسیون له دستیارانو او سلاکارانو څخه هیله کوو چې دیوسناتور حالت ته په کتو سره ورته ریوټ جوړ کړي دباباصاحب لخوا په لومړي سرکې ریوټ ښه وه خو وروسته ریوټ بیخي کمزوری وو.

**عبداللطیف نهضت یار:** دحج په پروسه کې دملي شورا دڅار رول بیخي په صفرکې ضرب شوی دی هیله ده چې په دې تړاو له سره کتنه وشي.

**ولیشاه نایب زاده:** دربادغیس وضعیت امنیتی خراب است ازدیروز به اینطرف ۴۵ تن ازپولیس و اردوی ملی تلفات داریم.درولسوالی آبکمري ۱۰۰۰۰ فامیل مجبور به ترک خانه

های شان شدند.درقادیس هم وضعیت خیلی خراب است،بالامرغاب درحال سقوط است ولسوالی جوند درمحاصره است مواد خوراکی به آنجا نمی رسد.راه رفت وآمد ولایت بادغیس به هرات مسدود است کل ولایت بادغیس درحال سقوط است.

وزیران صدای ما را نمی شنوند.امکان دارد که فاجعه بزرگ انسانی در بادغیس رخ دهد. امیدوارم که زمینه ملاقات ما با وزیران داخله ودفاع را فراهم بسازید.

**فضل هادي مسلم یار:**واقعا درد آور است به ایزدیار صاحب وظیفه میدهم که موضوع را با وزیرداخله درمیان بگذارد وخود با وزیردفاع صحبت می کنم وبرای ملاقات شما هم وخت مساعد می سازیم.هرنتیجه را که بدست آوردیم شما را مطلع می سازیم مجلس ختم شد.

###